بسم الله الرحمن الرحيم

پوښتنه او ځواب

**«د نبووت په منهج خلافت» حدیث**

مامون صوفي ته!

**(ژباړه)**

**پوښتنه**

قدرمن شیخ عطاء ابن خلیل ابو الرشته

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د الله سبحانه وتعالی له لوی دربار څخه غواړم چې تاسو، کورنۍ مو او د فلسطین د سپېڅلې ځمکې شباب روغ او هوسا وئ. د هغه سبحانه وتعالی له دربار څخه غواړم چې موږ ته د ګران رسول الله صلی الله علیه وسلم په منهج د خلافت په بیا تاسیسولو سره عزت راکړي.

نوم مې مامون صوفي دی او د کاناډا له شبابو څخه یم. غوښتل مې د « د نبووت په منهج خلافت» حدیث د صحت په اړه وپوښتم، چې په مسند احمد کې په (١٨٥٩٦) شمېره راغلی. تر اوسه مې په ټولو بحثونو کې یوازې دومره کړي چې د دغه حدیث یادونه وکړم، نور مخکې نه یم تللی. خو په دې وروستیو کې رانه وغوښتل شول چې د دغه حدیث صحت او اعتبار وګورم. دلته د دې خبرې یادول اړین بولم چې عربي مې لومړۍ ژبه نه ده، نو په څېړنه کې مې لاسونه تر یوې کچې تړلي وو.

زه له یوه سند سره مخ شوم چې داسې ادعا کوي:

د مسند احمد (١٨٥٩٦) شمېره حدیث چې موږ یې راوړو، د هغه حدیث له ډېرو ښو یوه ده چې وایي:« بیا به د نبووت په منهج خلافت وي ...». دغه وروستۍ برخه یې یوازې یوه کس روایت کړې، دا کس ابراهیم الوسیطي نومېږي، چې روایتونه یې متروک او د سند په توګه د باور وړ نه دي.

دلته مې یې په عربي ژبه د پي ډي ایف فایل ادرس راوړی، نوره شرحه دلته ده:

https://hawramani.com/wp-content/uploads/2018/12/idlibi_hadith_five_ages_islamic_state_prophethood.pdf

که دا موضوع راته روښانه کړئ، منندوی به مو یم.

برک الله فيکم يا شيخ عطاء!

الله سبحانه و تعالی خو مو دې له صراط المستقيم څخه نه کړوي!

آمين ثم آمين

مامون صوفي

**ځواب**

اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

۱. تاسو په خپله پوښتنه کې يادونه کړې: (د مسند احمد (۱۸۵۹٦) شمېره حديث چې موږ يې راوړو، د هغه حديث له ډېرو ښو يوه ده چې وايي:« بيا به د نبووت په منهج خلافت وي ...».) په داسې حال کې چې په مسند احمد کې په (۱۸۵۹٦) شمېره د خلافت په اړه کوم حديث نه دی راغلی! بلکې دا حديث د نورو موضوعاتو په اړه دی چې د نبووت په منهج خلافت پورې اړه نه لري. د دغه حديث عنوان د (د عبدالله ابن ابی اوفا (رح)) په څېرکي کې دی.

۲. د نبووت په منهج د خلافت حديث په بېلابېلو سرچينو کې موندلای شو:

الف - مسند احمد : ۱۷٦۸۰ – (سليمان بن داوود الطيالیسي له داوود بن ابراهيم الوسيطي او هغه بيا له حبيب بن سليم النعمان بن بشير څخه روايت کوي چې ويلي يې دي: موږ په جومات کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وو؛ بشير له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ډېر احاديث نه روايت کول؛ ابو طلبه الخوشاني وويل: اې بشير بن سعده! د حکامو په اړه دې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث په ياد دی؟ حذيفه وويل: زما يې وينا په ياد ده. ابو طلبه کېناست. حذيفه وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«تَكُونُ النُّبُوَّةُ فِيكُمْ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً عَاضّاً فَيَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ »**

***ژباړه:*** *تر هغه چې د الله تعالی خوښه وي، نبووت به له تاسو سره پاتې وي. بيا به د نبووت په منهج خلافت وي او تر هغه به دوام کوي چې څو د الله (سبحانه و تعالی ) خوښه وي؛ بيا يې که خوښه شوه هغه به هم*

*واخلي. بيا به ارثي حکومت (ملكًا عاضًا) وي او تر هغه چې د الله تعالی خوښه وي، دوام به کوي. بيا يې که خوښه شوه دا به هم واخلي. ورپسې به ظالم حکومت (ملكًا جبرية) وي او تر هغه به روان وي چې څو الله سبحانه وتعالی غواړي. بيا يې که خوښه شوه پورته به يې کړي. بيا به د نبووت په منهج خلافت وي. بيا چوپ شو.*

ب – د بيهقي په دلايل النبوة کې ۲۸۴۳ – ( ابوبکر محمد بن الحسن بن فارک (رح) له عبدالله ابن جعفر السبحاني او هغه له يونس بن حبيب او يونس بن حبيب له ابو داوو الطياليسي څخه روايت کوي چې داوو الوسيطي – چې د باور وړ کس و- ويلي: ما له حبيب بن سليم څخه اورېدلي چې ويل يې: ما له النعمان بن بشير بن سعد څخه په يوه حديث کې چې نوموړي ذکر کړی، اورېدلي چې : ابو طلبه راغی او ويې ويل: اې بشير بن سعده، د حکامو په اړه دې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث په ياد دی؟ حذيفه له بشير سره ناست و، نو حذيفه وويل: زما يې وينا په ياد ده، نو ابو طلبه کېناست او حذيفه وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

**«إنكم في النبوة ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء، ثم يكون خلافة على منهاج النبوة تكون ما شاء الله أن تكون ثم يرفعها إذا شاء، ثم تكون جبرية تكون ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها، إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون خلافة على منهاج النبوة»**

***ژباړه:*** *تاسو تر هغه پورې په نبووت کې يئ، چې څو د الله تعالی خوښه ده. بيا يې که خوښه شوه دا به درنه واخلي. بيا به د نبووت په منهج خلافت وي او تر هغه به دوام کوي، چې څو د الله (سبحانه و تعالی ) خوښه وي؛ ورپسې به ظالم حکومت (ملكًا جبرية) وي او تر هغه به روان وي چې څو الله تعالی غواړي. بيا يې که خوښه شوه پورته به يې کړي. بيا به د نبووت په منهج خلافت وي.*

ج – په مسند الطياليسي کې، ۴۳۳ – ( ابو داوود روايت کوي: داوود الوسيطي – چې د باور وړ کس و - موږ ته وويل: ما له حبيب بن سليم څخه واورېدل چې: ما له النعمان بن سعد څخه اورېدلي چې: موږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په جومات کې ناست وو، بشير داسې کس و چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يې ډېر احاديث نه دي روايت کړي، نو ابو طلبه راغی او ويې ويل: اې بشير بن سعده! د حکامو په اړه دې د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث ياد دی؟ حذيفه له بشير سره ناست و، حذيفه وويل: زما يې وينا په ياد ده. طلبه کېناست او حذيفه وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«إِنَّكُمْ فِي النُّبُوَّةِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً عَاضّاً، فَيَكُونُ مَا شَاءَ**

**اللَّهُ أَنْ يَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ جَبْرِيَّةً، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

***ژباړه:*** *تاسو تر هغه پورې په نبووت کې يئ، چې څو د الله تعالى خوښه ده. بيا يې که خوښه شوه دا به درنه واخلي. بيا به د نبووت په منهج خلافت وي او تر هغه به دوام کوي، چې څو د الله (سبحانه و تعالى ) خوښه وي؛ وروسته به ظالم حکومت (ملکًا جبرية) وي او تر هغه به روان وي چې څو الله تعالى غواړي. بيا يې که خوښه شوه پورته به يې کړي. بيا به د نبووت په منهج خلافت وي.*

د – د شهاب الدين احمد بن ابي بکر بن اسمعيل البوصيري (په ۸۴۰م کې وفات شوی) په «اتحاف الخرة المهرة» کې:

[ ۱/۴۱۶۴] ابو داوود الطياليسي وويل: داوود الوسيطي – چې د باور وړ کس دی- روايت کوي: ما له حبيب بن سليم څخه واورېدل، هغه له النعمان بن بشير بن سعد څخه اورېدلي وو چې: موږ په جومات کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو. بشير له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ډېر احاديث نه روايت کول، نو ابو طلبه ورته راغی او ويې ويل: اې بشير بن سعده، د حکامو په اړه دې د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث ياد دی؟ حذيفه له بشير سره ناست و، حذيفه وويل: زما يې وينا په ياد ده. طلبه کېناست او حذيفه وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

**«تكون فيكم النبوة ما شاء اللّه أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، تم تكون خلافة على منهاج النبوة، ثم تكون ما شاء اللّه أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون ملكاً عاضّاً فتكون ما شاء اللّه أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون ملكاً جبرية فتكون ما شاء اللّه أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون خلافة على منهاج نبوة ثم سكت.»**

***ژباړه:*** *تر هغه چې د الله تعالى خوښه وي، نبووت به له تاسو سره پاتې وي. بيا به د نبووت په منهج خلافت وي او تر هغه به دوام کوي چې څو د الله (سبحانه و تعالى ) خوښه وي؛ بيا يې که خوښه شوه هغه به هم واخلي. بيا به ارثي حکومت (ملکًا عاضًا) وي او تر هغه چې د الله تعالى خوښه وي، دوام به کوي. بيا يې که خوښه شوه دا به هم واخلي. وروسته به ظالم حکومت (ملکًا جبرية) وي او تر هغه به روان وي چې څو الله سبحانه وتعالى غواړي. بيا يې که خوښه شوه پورته به يې کړي. بيا به د نبووت په منهج خلافت وي. بيا چوپ شو.*

۳- له دغو احاديثو معلومېږي چې داوود بن ابراهيم الوسيطي د باور وړ کس دی. احمد يې په خپل مسند کې يادونه کړې، بيهقي يې په دلائل النبوة کې نوم راوړی، الطياليسي يې په خپل مسند کې ذکر کړی او بوصيري يې په اتحاف الخيرة المهرة کې. د حديث د صحت لپاره همدا کفايت کوي. سربېره پر دې، ابن

حبان دی په خپل کتاب «الطبقات» کې یو د باور وړ کس یاد کړی. دا کتاب اما الحفیظ ابی حاتم محمد بن حبان بن احمد التمیمي البستي لیکلی چې په ۳۵۴ ق یا ۹٦٥م کال کې وفات شوی.

۴- خو صلاح الدین الادلیبي په خپله وېبپاڼه کې، چې تاسو یې لېنک لېږلی، د داوود ابن ابراهیم په اړه څېړنه کوي او وايي چې دا الوسیطي او یا العقیلي دی، بیا د داوود ابن ابراهیم العقیلي په اړه خبرې کوي او روایتونه یې متروک یادوي، بیا وايي: ( د قزوین قاضي، داوود بن ابراهیم، العقیلي دی) دی زیاتوي ( الاذدي ویلي چې دا ناپېژندل شوی او د باور وړ نه دی). نوموړی بیا وايي ( د ویلو ده چې داوود بن ابراهیم الوسیطي د ابو داوود الطیالیسي، چې مسند یې لیکلی، پر وړاندې د باور وړ و. نو دا د منلو ده چې نوموړی د هغه کس لپاره د باور او اعتبار وړ و چې له ده یې روایت کړی!) که څه هم الادلیبي د ده صحت او اعتبار نه قبلوي! او دی د ابن حبان لپاره د باور وړ نه دی!

دی زیاتوی: «که داوود بن ابراهیم الوسیطي د راویانو په لړۍ کې په درواغو تورن شوی وي، نو د روایت لړۍ او ځنځیر نیمګړی دی او که له ده پرته بل څوک وي، نو دا ځنځیر کومه ستونزه نه لري. بیا هم که کوم شک وشي، زموږ دنده دا ده چې ودرېږو.»

دلته شک له کومه شي؟ بیهقي له ده څخه په خپل (دلائل النبوة) کې روایت کړی، الطیالیسي یې په خپل مسند او بوصیري یې په (اتحاف الخیرة المهرة) کې. د راویانو په ځنځیر کې هم د باور وړ کس یاد شوی، حدیث د دوی په واسطه استخراج او کره شوی. احمد یې هم په خپل مسند کې راوړی او ابن حبان دی، د باور وړ کس یاد کړی ... نو شک له کومه شي!؟

په پایله کې: «د نبووت په منهج خلافت» حدیث لویو محدیثینو روایت کړی او د روایت ځنځیر یې هم سم دی.

**ستاسو ورور عطاء بن خلیل ابو الرشتة**

**۱۴۴۳هـ.ق، د محرم الحرام ۱۵مه**

**۲۰۲۱م، د اګېسټ ۲۳مه**